# د "ويښ زلمي" ملي مترقي نهضت

# وياړلی غړی



## فيض محمد انګار

۱۹۱۴ - ۱۹۷۵ م.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

فیض محمد انگار

فیض محمد انگار د جاجي گل محمد خان زوي د محمد حسن لمسی د ۱۲۹۳ هجري شمسي (۱۹۱٤م) کال د کب د میاشتي پر نهمه نیټه د کندهار د یحیی خان په کوڅه کي وزیږیدي.

ده خپل ابتدائي اومنځني تحصیلات د کندهار د ارگ په ښونځي کي پاي ته ورسول او په ۱۳۲۵ کي د حقوقو او اقتصاد په ځانگه کي د عالي تحصیلاتو تر بشپړیدو وروسته ئې لمري د کندهار د موریسن په آمریکایي کمپني کي په کار شروع وکړه او څو میاشي وروسته د فواید عامي په وزارت کي په وظیفه لگیا سو.

په ۱۳۲۸ کي د ویښ ځلمیانو د حزب د تاسیس سره سم د دې ټولني غړي سو او د ۱۳۲۹ (۱۹۵۰م) کال د حوت پر نهمه ئې په کابل کي د حزب ملگرو په صلاح د انگار جریده د هغه وخت د درو نورو ملي اخبارو (نداي خلق، ولس او وطن) تر څنگ را وایسته. ا نگار ملي جریده چي دی ئې د امتیاز خاوند وو په هفته کي دوه ځله (د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ) په پښتو او دري ژبو خپریده. د دې ملي نشریې عمر ډیر کم وو، شپاړسمه گڼه ئې د حکومت له خوا مصادره سوه او مرحوم انگار د کابل په توقیف کي څه کم شپږ د اول ځل دپاره او لنډه موده وروسته په کندهار کي بیا د څلورو کالو او نهو میاشتو دپاره و زندان ته وسپارل شو.

انگار صاحب د عمر تر آخره په سیاسي فعالیت لگیا وو او تقریباً (۱۳۵۳-۱۳۵٤ش ۱۹۷٤-۱۹۷۵م) کال د کب د میاشتي پرو اوومه وفات او په کندهار کي په خپله پلرني هدیره کي خاورو ته وسپارل شو.

د یادوني وړ خبره:

ما دا خبره د محترم داکتر توریالي انگار او هم د یوه دوه موثق شخصیتو له خوا واوریده چي د (۱۳۲٦ش-۱۹٤۷م) کال په شا او خوا، د حاجي گل محمد خان په کور کي چي د خدای بخښلي انکار پلار و او کور یې د کابل په قرتاي (کوردها) په ناحیه اول کي واقع وو یوه غونډه د منورو شخصیتونو له خوا شوې وه چي په هغه کي د کندهار نه پوهاند عبدالحي حبیبي، محمد رسول خان پښتون، قاضي بهرام خان، عبدالهادي خان توخي، حاجي محمد انور خان اڅکزي، غلام جیلاني خان الکوزی، او داسي نور، او د ننگرهار او لغمان نه لکه گل پاچا الفت، سید شمس الدین مجروح، مولوي قیام الدین خادم، صدیق الله رښتین، غلام حسن خان ساپي او داسي نور او د کابل نه میر غلام محمد غبار، داکتر عبدالرحمن محمودي، غلام محي الدین زرملوال، محمد ارسلان سلیمي (وردک)، میر محمد اسمعیل بلخي، مرحوم اسمعیل مبلغ او نور داسي را غونډ شوي و چي د ویښ ځلمیانو د تحریک په هکله خبري وشوې او راي وغوښتل شو چه د دې تحریک نوم به څه وي؟ په پاي کي دا پریکړه شوه چه د تحریک نوم باید (ویښ ځلمیان) کیښودل شي.

د شاه محمود خان صدراعظم د نیمگړي دیموکراسي عمر ډیر لنډ و نو په (۱۹۵۱م) کال د ویښ ځلمیانو دغه لاندي ذکر شوي غړي گل پاچا الفت او قیام الدین خادم، غلام محي الدین زرملوال، غلام دستگیر پوپل، عبدالروف بینوا، او نور محمد تره کي خپل حضور ته ور وغوښتل، نوموړي صدراعظم په داسي حال که چي ډېر تریو او تریخ ښکاریده اخطار ورکړ چه نور ویښ ځلمیان سیاسي فعالیت نشي کولای او وې ویل هر څوک چي له حکومت سره همکاري وکړي لویې رتبې به ورته ورکړل شي، هماغه وو چي تره کي او بینوا دواړه د ویښ ځلمیانو د گونډ له غړیتوب څخه استعفا ورکړه او دواړو له سیاست څخه شاه محمود خان ته توبه نامه ورکړه. نوموړي صدراعظم د توبه نامې په بدل بینوا په دهلي کي د افغانستان په سفارت کي د مطبوعاتي اتشې په صفت مقرر او د دواړو عکسونه یو ځاي د کابل د مجلې په سالنامه کي خپاره شول، ولي دیارلس نورو د ویښ ځلمیانو د رهبري کدر ډیر فعال او آشتي ناپذیره غړي لکه محمد رسول پښتون، عبدالهادي توخي، قاضي بهرام خان، حاجي خدایدوست، یولس یولس کاله او فیض محمد انگار، غلام جیلاني الکوزی، آخند زاده محمد یوسف حضرت مجددي، محمد انور اڅکزی، محمد علم بڅرکي او حاجي محمد قندهاري پنځه نیم پنچه نیم کاله او غلام حسن خان صافي د یوې مقالې د نشر په بهانه دو کاله او محمد ابراهم خواخوږي یې دوه میاشتي زنداني کړل.



انگار صاحب - د کابل محبس - ۱۳۵۱ م.

(د محترم خوشحال حبيبي څخه په ډېره مننه چي دا تاريخي معلومات يې زموږ سره شريک کړي دي.)